ÉVALUATION DIAGNOSTIQUE DES ÉLÈVES ALLOPHONES

# Compréhension de l'écrit

CYCLE 2

Langue d'origine : pachto

CANOPÉ

| نوم: | تخلص: |
|---|---|

NIVEAU : FIN DE CP

**1**

## لاندې متن ولوله.

سمیع نن سهار په اوه بجې له خوبه راویښیږي. دا د هغه د مکتب اوله ورځ ده. د هغه مور یې په مینه له خوبه راپاڅوي.

د هغه د کټ څنګ ته یوه چوکۍ ده. سمیع له خوبه جیګیږي او کالي اغوندي. هغه خپل ابي پرتوګ او سور کمیس اغوندي. هغه خپله د خوښې خولۍ، چې شنه ده او د پاسه پرې سُور ستورى دى رااخلي.

د کړکۍ څنګ ته یوه غټه الماری هم شته او په دېوال یو د پیشوګانو عکس لګېدلی دی.

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

## 2

## کلمې ته د خپل عکس سره ربط ورکړه.

| | | |
|---|---|---|
|  | ☐ جیګېدل ☐ |  |
| | ☐ کټ ☐ | |
|  | ☐ چوکی ☐ |  |
| | ☐ خولی ☐ | |
|  | ☐ مور ☐ |  |
| | ☐ پرتوګ ☐ | |
|  | ☐ هلک ☐ |  |
| | ☐ ستوری ☐ | |
|  | ☐ پیشو ☐ |  |
| | ☐ کمیس ☐ | |

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

## 3

## سمیع په څو بجې له خوبه جیګېږي؟ د صحیح ځواب نه کرښه تاو کړه.

- اته بجې
- اوه بجې
- شپږ بجې

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

## 4

**د سميع کالي رسم کړه او صحيح رنګونه ورزيات کړه.**



| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

## 5

**د سميع د اطاق نه کرښه تاو کړه. نورو رسمونه چلیپا کړه.**



• رسم 1 • رسم 2 • رسم 3 • رسم 4

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

## لاندې متن ولوله.

مور یې وویل، «د پاڅېدو وخت دی د زړه سره. ما درته ښایسته سبانارې جوړ کړې دی، په پخلنځي کې درته منتظره یمه».

سمیع د الماری په آیینه کې ځان ته ګوري. له ځان سره فکر کوي چې نورو به ښګه کالي اغوستلي وي. تېر ماښام هغه د خپل لباس په تیارولو ډېر وخت تېر کړی و.
هغه الماری خلاصوي، خپل تور سپورتي بوټونه رااخلي او د کوټې نه ووځي، بوټان یې په لاس کې نیولي.

په تورتم کورېډور کې یې خوارډه بویونه پوزې ته وررسېږي. کله چې هغه پخلنځي ته ننوځي نو په مېز د اوړو خوارډه کیکونه او هګۍویني چې لا هم تودې دي، یوه د ګرمو چاکلیتو کاسه او یو د شنو مېوو قاب چې اناناس، کېلې او منې پکې دي.

## پوښتنې ځواب کړه

---

**6**

### د سمیع کالي چا انتخاب کړل؟ د صحیح ځواب نه کرښه تاو کړه.

- د سمیع پلار
- د سمیع کشر ورور
- د سمیع مور
- سمیع

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

---

**7**

### هغه شنې مېوې چې په قاب کې نشته چلیپا کړه.

- کېلې
- نارنجان
- ځمکنې توتان
- اناناس
- ناشپاتې
- منې

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

**8**

**سمیع د خپلو کالیو په تیارولو لږ وخت تېر کړی و.**

**د صحیح ځواب نه کرښه تاو کړه.**

• غلط • صحیح

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

**9**

**د سمیع د هغو شیانو نه بد راځي چې مور يې د سباناري لپاره تیار کړي دي.**

**د صحیح ځواب نه کرښه تاو کړه.**

• غلط • صحیح

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

**10**

**فقرو ته د کیسې په ترتیب لمبرې ورکړه، د ټولو نه اول عمل نه تر ټولو اخر عمل پورې په دغه ترتیب.**

- سمیع د اطاق نه ووځي ........................................
- سمیع الماری خلاصوي ........................................
- سمیع د الماری په آیینه کې ګوري ........................................
- سمیع خپل لباس تیاروي ........................................

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

## لاندې متن ولوله.

«مو ر يې وويل: بيره وكړه د زړه سره، وخت دى. ايا مطمين يې چې يوازې تللو ته ترجيح وركوې؟ لاره به په خپله پيدا كړې؟

– هو، تشويش مه كوه. ته څه غواړې چې ما سره وشي؟ او په هر صورت، ښه خبره ده چې زه اموخته شم، هره ورځ به همداسې وي.»

مور څه نه وايي او خاندي خو هغه په تشويش كې ده، هغه خپل زوي ښكلوي او په ويښتو يې لاس راكاږي. د هغه د هغې د دغسې كولو نه بد راځي خو هغه صبر نشي كولى.

سميع غواړي چې په بكسه كې څه كيكونه ځان سره يوسي، ځكه چې تل د لسو بجو خواوشا كې وږى كيږي. هغه ته معلومه نده چې په نوي مكتب كې به يې ددې اجازه وي كه نه نو نه راخيستل يې غوره كوي.

بيا هغه خپل بوټان پښو كوي او د ساختمان د زينې نه لاندې طرف ته منډه وهي.

مور يې ورپسې ورمنډه كړه، په داسې حال كې چې د زوي خولۍ يې په لاس كې وه او چيغه يې ورته كړه: سميع! ستا خولۍ! خولۍ درنه هېره شوې!»

سميع ترې خولۍ راښكله او وې ويل:

«زما شنه خولۍ! دا زما په دې مكتب كې اوله ورځ ده او زه هغه دى كابو زما د خوشبختى د خولۍ نه غير تللى ووم !»

## د صحيح ځواب نه كرښه تاو كړه

**11**

**د سميع ددې نه بد راځي چې مور يې په ويښتو ورله لاس راكاږي.**

• غلط    • صحيح

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

## 12

### سمیع په بکسه کې کیکونه ځان سره اخلي.

• نه • هو

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

## 13

### سمیع چیرته ژوند کوي؟

• په یو اپارتمان کې

• په یو کاروان کې

• په یو ځانته کور کې

• په یوه کلا کې

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

## 14

### د سمیع مور زینو ته ولې ورمنډه کوي؟

• دې لپاره چې هغه ښکل کړي

• دې لپاره چې خولۍ یې ورکړي

• دې لپاره چې په ویښتو یې لاس راکاږي

• ځکه چې په هغه ناوخته دی

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

## 15

## ستا په نظر، سمیع ولې فکر کوي چې دا مهمه ده چې خولۍ یې ورسره وي؟

- دې لپاره چې ترې ورکه نشي
- دې لپاره چې اطمینان ورکوي
- دې لپاره چې مکتب ته تېز لاړ شي
- ځکه چې دا د هغه د مکتب اخري ورځ ده

| MI | MF | MS | TBM |
|---|---|---|---|

**Rappel des codes de correction :**
**MI** = maîtrise insuffisante **MF** = maîtrise fragile **MS** = maîtrise satisfaisante **TBM** = très bonne maîtrise
**MI et MF :** non acquis **MS et TBM :** on considère que c'est acquis